مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۱ / ۰۲ / ۱۴

# مینه او کینه

غم دي راپرېښوده بېغمه لاړې
راته ښکارېږي چې صنمه لاړې
د دم په وخت کې دي اشنا بللم
چې زه راپرېوتم له دمه لاړې
د ګل نه مه کړه د وفا تمه بیا
لمر چې راوخته شبنمه لاړې
په سختو ورځو کې تنها دي پرېښووم
د تش خوږو ورځو همدمه لاړې
د میني باتو کې تیتر دي واهه
تیتر کې زړه دي کړ برهمه لاړې
د زړه کوڅې دي له اول ښېلې وې
ځکه له کلي او له چمه لاړې
زه د ریښتیني ژوند په هڅه، لټه
ته د واهي ارزو په تمه لاړې
ما له ګرېنګه او لوېدال ژغورلې
خو تا ویل چې پرې ورځمه، لاړې
په ختّه ښه وې خو په خوی بده وې
نیش دي راووهه لړمه لاړې(۱)
چیري چې مینه او کینه یوشان وي
ځه ترې، په غرو او که په سمه لاړې
(۱) متل دی وایي، لړم چا سره له دښمنی نیش نه وهي، بلکي نیش وهل یي خصلت دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ